CREATIVE LEARNING INITIATIVE AUSTIN

# د CLI مياشت: غږيز تړېک

د آسټين ISD کورنۍ او هغه پالونکي کولی شي، د خپلو زده کونکو د ټولګي تجربې په ساتيری او جذابو طريقو باندې د خبرو اترو د پوخوالي او ژورولو او د زده کړې د پياوړتيا له لارې خپلو کورونو ته ولېږدوي. راځئ چې د تخليقي تدريس ستراتيژي له نړدې وګورو: **غږيز تړېک!**

په ټولګيو کې موږ کولی شو د**غږيز تړېک** څخه کار واخلو، ترڅو زده کونکي پر يوې نوې موضوع باندې اخته کړو او هغه څه منعکس کړو چې دوی زده کړي دي. په دې نسخه کې موږ د يو کرکټر يا تاريخي شخصيت سره د موسيقی د نښلولو لپاره له **غږيز تړېک** څخه کار اخلو.

**لاربښوونې**

- يو افسانوي کرکټر يا تاريخي شخصيت غوره کړئ. دا کيدلی شي هغه څوک وي، چې ستاسو اشوم په ښوونځي کې د هغه په اړه زده کوي، مګر حتمي نه ده، چې يوازې همدا کس وي. **غږيز تړېک د هر ډول کرکټر يا شخص سره کارول کيدلی شي.**
- هغه وټاکئ او وروسته د ميوزيک دوه برخې يا ټوټې وغږوئ.
  - هڅه وکړئ هغه سندرې غوره کړئ، چې کليمې نه لري. په دې ډول تاسو کولی شئ د سندرو د لفظي معنی پرځای د ميوزيک احساسات او لحن و مومئ. دلته د پيل کولو لپاره يو څو سپارښتنې دي چې له تاسو سره مرسته کوي:
    - [د وايلين کنسرټو 2 نمبر]()
    - ["سمارې"]()
    - [جفت نارون]()
    - [تغذيه کول او پالنه]()
- په ګډه موسيقي واورئ. له خپل ماشوم څخه وغواړئ چې هغه څه تشريح کړي، چې دوی يې اوري، موسيقي دوی ته څه ډول احساس ورکوي او موسيقي دوی ته څه په اړه فکر کولو ته اړ باسي.
- له خپل ماشوم څخه وغواړئ چې ووايي، څه ډول د موسيقی ټوټه د افسانوي شخصيت يا تاريخي شخصيت سره نښلول شوې ده. دلته د خبرو اترو د پيل کولو لپاره يو څو پوښتنې شتون لري:
  - کوم سندره د کرکټر ښه استازيتوب کوي او ولې؟
  - د دې سندرو کومه برخه د کرکټر ښه استازيتوب کوي؟
  - سندرې د کرکټر په اړه کوم پيغامونه رسوي؟
  - په دې سندرو کې د کرکټر په اړه څه نه دي شامل شوي؟
  - د موسيقی کومه بله ټوټه کيدلی شي، چې د کرکټر ښه استازيتوب وکړي؟

**پراختياوي فعاليت**

د يو کرکټر تاريخي شخصيت د ښودلو لپاره د سندرو د غوره کولو څه وروسته، تاسو او ستاسو ماشوم کولی شئ د خپل ځان د استازيتوب لپاره د غږيز تړېک په غوره کولو سره دغه فعاليت ته نوره هم پراختيا ورکړئ. دغه پړاونه په اندې ډول دي:

- هر یو باید د خپلې خوښې دوه غوره سندرې وپېژنئ.
- د دغو سندرو ځيني برخې د یو بل لپاره وغږوئ.. **هغه څه تشریح کړئ چې تاسو یې اورئ.** موسیقي تاسو ته څه ډول احساس درکوي او موسیقي تاسو څه ډول فکر کولو ته هڅوي.
- پر دې باندې بحث وکړئ، چې تاسو ولې دا هره سندره غوره کړه ده. تاسو ممکن د سندرو د استازیتوب څرنګوالی هم شریک کړئ:
  - ستاسو په اړه یو مهم شی.
  - تاسو غواړئ نور خلک ستاسو د کوم شي په اړه خبر و اوسي.
  - تاسو همدا اوس څه احساس کوئ.
  - څه ډول یو شخص غواړئ، چې و اوسئ.
- که چېرې تاسو غواړئ، نو تاسو او ستاسو ماشوم کولی شئ دا پروسه د نورو سندرو سره وکاروئ، ترڅو یو داسې بشپړ **غږیز ټرېک** جوړ کړئ، چې ستاسو د ژوند د ډېری برخې استازیتوب کوي.